انمول ہیرے (پشتو)

# قیمتي مَلغَلرې




شَیخ طَریقَت، اَمیرِ اَہلِسُنَّت، بانيِ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال

مُحَمَّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

# قِيمَتي مَلغَلرې

دا رِساله ”انمول ہیرے“ شيخ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په اردو ژبه کښې ليکلي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب ترجمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمې، زياتي اوومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش: مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


**برائے رابطہ:**

**عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران**

**پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان**

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# قِيمَتي مَلغَلري*

شيطان که هرڅومره ناراستي دروڵي خو دا رِساله پوره اولولئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دُنيا او د آخرت بې حسابه ګټه به حاصله

## د دُرود شريف فضيلت

زما آقا اعلٰي حضرت، امامِ اهلِسُنّت، مولانا شاه امام اَحمد رضا خان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن په فَتاوٰى رَضوِيّه شريف جلد 23 صفحه122 کښ نقل فرمائي: حضرتِ اَبُو المُواهِب رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ به فرمائيل: چه ما په خوب کښ رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوليدو، حُضورِ اقدس صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ماته اوفرمائيل: ”چه د قِيامت په ورځ به ته د يو لاک بندګانو شفاعت کوې.“ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه څنګه د دې قابِل شوم؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: ”ځکه چه

---

* دا بيان امير اهلسنت دامت برکاتهم العالية د تبليغ قرآن و سنت عالمګير غير سياسى تحريک دعوت اسلامى د درې ورځو په بين الاقوامى سنّتو نه ډکې اجتماع (25صفرُالمُظفّر1430ھ، مطابِق 2009) مدينةُ الاولياء ملتان کښ فرمائيلې وو. د ضرورى ترميم سره په ليکلې شوي صورت کښ حاضرِ خد مت دې. مجلس مکتبه المدينه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِی)

ته په ما با ندې درود شریف لولې او د هغې ثواب ما ته نذرکوې. (الطبقاتُ الکُبرٰی للشعرانی ص 101) د ثواب نَذر کولو طریقه دا ده چه د لوستلو په وخت کښې په زړه کښې د ثواب نَذر کولو نیّت اوکړئ یا د لوستلو نه مخکښې یا وروستو په ژبه هم اووائې چه د دې درود شریف ثواب جنابِ رِسالت مآب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته نَذر کووم.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

وائي چه یو بادشاه د خپلو ملګرو سره د یو باغ په خوا تیریدلو نو هغه اولیدل چه د باغ نه څوک واړه واړه کانړی را اُولې، یو وړوکې کانړې راغې او بادشاه پرې اولګیدو. هغه خپلو خادِمانو ته اووئیل چه په منډه ورشئ، او دا کانړې وِیشتونکې اونیسئ او ما ته ئې حاضِرکړئ، چنانچه خادمانو یو باندَیچې [یعنی د کلي اوسیدونکې یو بې تعلیمه سړې] راحاضِرکړو. باد شاه ورته اووئیل: دا واړه کا نړې تا چرته موندلې وو؟ هغه په یَره یَره اووئیل: ما په شړو کښې سیل کولو چه ناځاپه مې په دې ښکلو کانړو نظر پریوتو، ما دا په څولئ کښې راواچول او بیا راتلم راتلم دې باغ ته را اورسیدم او د میوو راښندلو د پاره مې دا کانړې استعمال کړل. بادشاه ورته اووئیل: ته د دې کانړو د قِیمت نه خبر ئې؟ هغه عرض اوکړو: نه. بادشاه اووئیل: دا کانړې په اصل کښې قِیمتي ملغلرې وې کومې چه تا د نادانئ په

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

وجه ضائِع کړي. په دې خبره هغه کس ډير افسوس اوکړو خو اوس د هغه افسوس کول بيکاره وو ځکه چه هغه قِيمتي ملغلرې د هغه د لاس نه وتلي وې.

## د ژوند ساعتونه قِيمتي ملغلرې دي

خوږوخوږواسلامی ورونړو! هم دغسې زمونږ د ژوند ساعتونه هم قِيمتي ملغلرې دي که دا مونږه بيکاره ضائع کړې نو د افسوس او پښيمانۍ نه سِوا به هيڅ هم په لاس رانه شي.

دن بھر کھیلوں میں خاک اڑائی
لاج آئی نہ ذرّوں کی ہنسی سے

ټوله ورځ به زه په خاورو لوبيدمه
هم د شګو په خندا نه شرميدمه

الله عَزَّوَجَلَّ انسان د يو مُقرّره وخته پورې د خاص مقصد د پاره دې دُنيا ته راليګلې دې. چنانچه په سيپاره نمبر18سُورَةُ الْمُؤْمِنُون آيت نمبر115کښې ارشاد کيږي:

اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّ اَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱۵﴾

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان: نو آيا دا خيال لرئ چه ما تاسو بيکاره جوړکړي يئ او تاسو به زما طرف ته نه راګرځئ.

په ''خَزَائِنُ الْعِرفان'' کښې د دې آيت لاندې ليکلي شوي دي: او (آيا تاسو به) په آخِرت کښې د جزا [يعني حِساب کِتاب] د پاره نه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِیامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصیب کیږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

راپاڅئ. بلکه تاسو مې د عِبادت د پاره پیداکړي يئ چه په تاسو عبادَت لازم کړم او کله چه په آخرت کښې زما طرف ته بیرته را شئ نو تاسو ته ستاسو د اعمالو جزا درکړم.

د مرګ او د ژوند د پیدا کولو سبب په پاره 29 سورةُالمُلک آیت 2 کښې داسې بیان شوې دې:

اَلَّذِیۡ خَلَقَ الۡمَوۡتَ وَ الۡحَیٰوۃَ لِیَبۡلُوَکُمۡ اَیُّکُمۡ اَحۡسَنُ عَمَلًا ؕ

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان: هغه، چا چه مرګ او ژوند پیداکړي دي چه ستاسو امتِحان واخلي چه په تاسو کښې د چا کار ډیر ښه دې.

## د ژوند وخت لږ دې

خوږو خوږو اسلامی وروڼو! د ذِکر کړې شوو دوه آیتونو نه علاوه هم په قرآنِ پاک کښې په نورو مُقاماتو کښې د انسان د پیدائِش مقصد بیان کړې شوې دې، انسان په دې دنیا کښې د ډیر لږ وخت اوسیدونکې دې. او په دې وقفه کښې د ده په ذِمّه د قبر او حشر د ډیرو اوګردو اوګردو معامِلاتو د پاره تیاري کول دي. په دې وجه د انسان وخت ډیر زیات قِیمَتي دې. وخت د یو تیز رفتاره ګاډی په شان په زور او شور سره روان دې نه په اودرولو اودریږي او نه په نیولو په لاس راځي، کومه ساه چه چا یو ځل واغِستله هغه بیرته نه راځي. چنانچه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

# د ساګانو امیل

حضرت سیِّدنا حسنِ بصری رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: زرکوئ! زرکوئ! ستاسو ژوند څومره دي؟ هم دا ساګاني خو دي چه که اودریږي نو ستاسو د هغه عملونو سلسله به هم ختمه شي د کومو په ذریعه چه تاسو د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ قُرب حاصلوئ. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغه کس رحم اوفرمائي: چا چه د خپلو [عملونو] لټون اوکړو او په خپلو ګناهونو ئي يو څو اوښکې اوبهیولې. د دې وئیلو نه پس هغوئ رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د سیپاره نمبر16 د سُورۃ مریم آیت نمبر84 تلاوت کړو:

اِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمۡ عَدًّا ﴿۸۴﴾

مفہوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او مونږ خو د هغوئ شمار پوره کوو.

حُجَّۃُ الاِسلام حضرت سیِّدنا امام محمّد بن محمّد غزالی عَلَیۡہِ رَحۡمَۃُ اللّٰہِ الۡوَالِی فرمائي: دلته د شمار نه د ساګانو شمیرمراد دې. (احیاء العلوم ج۳ص ۲۰۵)

یہ سانس کی مالا اب ٹوٹنے والی ہے غفلت سے مگر دل کیوں بیدار نہیں ہوتا

په شلیدو مې د ساګانو اَمیل راغي
زړه مې بیا هُم بیدار نه شو له غفلته

# د ”وړځ“ اِعلان

حضرت سیِّدُنا امام بَیۡہَقِی عَلَیۡہِ رَحۡمَۃُ اللّٰہِ الۡقَوِی په ”شُعَبُ الۡاِیمان“ کښې نقل کوي: د تاجدارِمدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عبرت نِشان

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(يعني شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

دې: هره ورځ چه کله د نمر سترګه راخيژي نو هغه وخت "ورځ" دا اِعلان کوي: که نن څه ښه کار کوئ نو اوکړئ ځکه چه د نن نه پس به ځه کله هم بيرته را نه شم. (شعب الايمان ج ٣ ص ٣٨٦ حديث ٣٨٤٠)

گیاوقت پھر ہاتھ آتا نہیں

تير شوې وخت بيا په لاس نه راځي

## جناب يا مرحوم!

خوږو خوږو اسلامی وروڼړو! د ژوند چه کومه ورځ نصيب شي هغه غنيمت ګنړل پکار دي او په هغې کښې چه څومره کيدې شي ښه ښه کارونه اوکړې شي نو بهتره ده ځکه چه "صبا" معلومه نه ده چه خلق مونږ ته د جناب په آواز غږ کوی يا د "مرحوم" په نوم. مونږ ته که د دې خبرې احساس وي او که نه . خو دا حقيقت دې چه مونږ د خپل مرګ منزِل طرف ته په ډيره تيزئ سره روان يو. چنانچه د سيپاره نمبر30 د سُورۀاِنشِقاق په آيت نمبر6 کښې ارشاد شوې دې:

يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اِنَّكَ كَادِحٌ اِلٰى رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلٰقِيْهِ ﴿٦﴾

مفهوم ترجمۀ کنزُالإيمان: اے اِنسانه! بيشکه ته به د خپل رب (عَزَّوَجَلَّ) طرف ته ضرور درُومې بيا د هغه سره ملاقات.

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

مرتے جاتے ہیں ہزاروں آدمی
عاقل و نادان آخر موت ہے

هره ورځ مري په زرګاؤ خلق ورروه
آخِر مري به ټول، نادان که عقلمَند دي

# مرګ ناڅاپه راځي

خپل وخت په فضولياتو کښې بربادونکو! سوچ اوکړئ، ژوند څومره په تيز رفتارئ سره تيريږي. ډير ځل به تاسو ليدلي وي چه ښه روغ او صحت مند انسان ناڅاپه د مرګ کندې ته کوز شي، اوس په قبر کښې به په هغه څه تيريږی د دې اندازه مونږ نه شولګولې البتّه په هغه باندې به ښکله د ژوند حال ښکاره شوې وي څکه چه:

کتنی بے اعتبار ہے دنیا
موت کا انتظار ہے دُنیا
گرچہ ظاہر میں صورتِ گل ہے
پر حقیقت میں خار ہے دُنیا

خومره بې اِعتِبار ده دا دُنيا
بس د مرګ اِنتِظار ده دا دُنيا
په ظاهِره دا د ګُل په شان ده
حقيقت کښې د ازغو بار ده دا دُنيا

اے د دُنيا د مال شوق لرونکو! صرف مال جمع کول د خپل ژوند مقصد ګرځونکو! زر زر د خپل آخرت تيارى اوکړئ. چرې داسې اونه شي چه د شپې ښه روغ رمټ اوده کيدو باوجود هم سحر توره تيره قبر ته کوز کړې. د الله عَزَّوَجَلَّ دپاره! د غفلت د خوب نه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

رابيدارشئ! اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په سيپاره نمبر17 د سُورةُالْاَنبياء په اولني آيت كښې ارشاد فرمائي:

اِقۡتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمۡ وَ هُمۡ فِیۡ غَفۡلَةٍ مُّعۡرِضُوۡنَ ۚ﴿۱﴾ مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان: د خلقو حِساب نِزدې او هغوئې په غفلت كښې مخونه اړولي دي.

ایک جھونکے میں ہے اِدھر سے اُدھر
چار دن کی بہار ہے دُنیا

كېده وده به شي دا په يو چپه كښې د يو څو ورځو بَهار دي دا دُنيا

## جنّت كښې هم افسوس!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! مونږ له د خپل وخت د قدر پيژندل ضروري دي، فالتو وخت تيرول د څومره غټ نقصان خبره ده، د دې اندازه د دې حديثِ پاک نه اولګوئ چنانچه د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ باقرينه دې: "جنّتيانو ته به بل د يو شي هم افسوس نه وي سِوا د هغه ساعت نه كوم چه (په دنيا كښې) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ذِكر نه بغيرتير شوي وو. (المعجم الكبير ج ۲۰ ص ۹۴،۹۳ حديث ۱۷۲)

## د قلم څوكه جوړول

حافِظ اِبنِ عَساكِر په "تَبيِينُ كَذِبِ الْمُفتَرِی" كښې فرمائي: (د پينځمې صدئ د مشهور بُزرګ) حضرت سليم رازي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَيْه قلم به چه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّیاللہُتَعَالٰیعَلَیۡہِوَاٰلِہٖوَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

کله په ليکلو ليکلو اوسوليدو نو د څوکې جوړولو په وخت کښې (اګر چه د دِينی لِيک د پاره دا هم د ثواب کار دې خو د نور ثواب حاصلولو د پاره) به ئې د الله ذکر شروع کړو چه دا وخت صرف په څوکه جوړولو کښې تير نه شي!

## په جنّت کښې ونې اولګوئ!

د وخت د اَهَمِّيَّت اندازه د دې خبرې نه اولګوئ چه که تاسو غواړئ نو په دې دُنيا کښې د اوسيدو په دوران کښې صرف په يو سيکنډ کښې په جنّت کښې يوه ونه لګولې شئ او په جنّت کښې د ونې لګولو طريقه هم ډيره زياته آسانه ده. چنانچه د اِبنِ ماجه شريف د يو حديثِ پاک مطابِق په دې څلورو کلِمو کښې چه هره يوه کلِمه اولولئ نو په جنّت کښې به درله يوه ونه اولګولې شي. هغه کلِمې دا دي:

(1) سُبۡحٰنَ اللّٰهِ (2) اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ (3) لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ (4) اَللّٰهُ اَكۡبَرُ

(سنن ابن ماجه ج ٤ ص ٢٥٢ حديث ٣٨٠٧)

## د دُرود شريف فضيلت

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! تاسو اوليده چه په جنّت کښې ونه لګول څومره آسان دي! که د بيان کړې شوو څلورو کلِمو نه يوه کلِمه اولولئ نو يوه ونه او که څلو رواړه اولولئ نو په جنّت کښې به درله څلور ونې اولګولې شي. اوس تاسو پخپله سوچ اوکړئ چه وخت

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (ترمِذی)

څومره قيمتي دې چه ژبې ته په لږ حَرَکت ورکولو په جنّت کښې ونې لګولې شي. نو اے کاش! چه د فالتو خبرو په ځائ مونږ د سُبْحٰنَ اللّٰه سُبْحٰنَ اللّٰه وظِيفه کوو او په جنّت کښې بې شميره ونې لګوو. مونږه که ولاړ يو، که روان يو، که ناست يو که ملاست يو يا څه کار کوو مونږه ته هم دا کوشش کول پکار دې چه مسلسل دُرُود شريف وايو ځکه چه د دې د ثواب انتِها نشته، سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چه په ما باندې يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په هغه لس رحمتونه نازلوي، لس ګناهونه ئې ختموي، لس درجات ئې اوچتوي. (سنن نسائی ص ٢٢٢ حديث ١٢٩٤)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

ياد ساتئ! چه کله هم په ملاسته څه وظيفه لولئ نو ښپې راغونډول پکار دي.

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! کاش چه د وئيلو نه مخکښې په داسې شان زمونږ د سوچ کولو عادت جوړ شي چه زه چه دا خبره کول غواړم په دې کښې څه دِيني يا دُنياوي فائِده هم شته او که نه؟ که دا خبره راته فُضول ښکاره شي نو د کولو په ځائ "دُرود شريف" لوستل يا "اللّٰه اللّٰه" وئيل رانصيب شي نو په دَلو دَلو ثوابونه به په لاس راشی (سُبْحٰنَ اللّٰه يا اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ يا لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ يا اَللّٰهُ اَكْبَر) وائيو چه په جنّت کښې راته د وَنو لګولو سعادت نصيب شي.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالْعُمَّال)

ذکر و درود ہر گھڑی ورد زباں رہے
میری فضول گوئی کی عادت نکال دو

ذِکر و دُرُود دِ وي هر دم زما په ژبه
د فُضُول وَينا عادت کړه زما لرې

## د شپيتؤ کالو د عبادت نه غوره

که د څه لوستلو په ځاۍ مو زړه خاموشه اوسيدل غواړي نو په دې کښې هم د ثواب ګټلو صورتونه شته او هغه دا دي چه په بيکاره او خرابو سوچونو کښې د اخته کيدو په ځاۍ سرې د الله عَزَّوَجَلَّ په ياد کښې يا په يادِ مدينه او يادِ شاهِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې ډوب شي. يا د دِين په علم کښې سوچ او فکر شروع کړي يا د مرګ د جَټکو، د قبر په تنهائۍ، د هغې په يَره او د محشر د سختو په سوچونو کښې ډوب شي نو دا به هم د وخت ضائِع کيدل نه وي بلکه يوه يوه ساه به هم اِنْ شَآءَاللهُ عَزَّوَجَلَّ په عبادت کښې شمارله شي. چنانچه په "جامِعُ الصَّغِير" کښې دي د سرکارِ مدينه، راحتِ قلب و سينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ باقرينه دي: (د آخرت د معامِلاتو په باره کښې) د لږ ساعت د پاره سوچ او فکر کول د شپيته کالو د عِبادت نه غوره دي. (الجامع الصغير للسيوطی ص ۳۶۵ حديث ۵۸۹۷)

ان کی یادوں میں کھو جایئے
مصطفٰی مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم کیجئے

په يادونو کښې شئ ډوب د خوږ نبي
لولئ يا مُصطفٰى مُصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلىٰ)

# پينځه د پينځؤ نه مخکښ

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** يقيناً ژوند ډير مختصر دې، كوم وخت چه نصِيب شو، نو بس هُم دغه وحت دې، آئِنده د وخت په لاس د راتلو اُميد دوكه ده. خبر نه يو كه دا نزدې راروان ساعت مونږه د مرګ غيږې ته لاړشو. رَحمتِ عالَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي:

اِغْتَنِمْ خَمساً قَبلَ خَمسٍ شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ وَ صِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ وَ غِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ وَ فَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ وَ حَيَاتَكَ قَبلَ مَوْتِكَ.

(المُستدرک ج ۵ ص ۴۳۵ حدیث ۷۹۱۶)

ترجمه: پينځه خيزونه د پينځؤ خيزونو نه مخکښ غنيمت اوګنړئ (1) ځوانی د بُوډا والي نه مخکښ (2) صحّت د بيمارئ نه مخکښ (3) مالداري د غريبئ نه مخکښ (4) فُرصت [يعنی وزګار وخت] د مصروفيّت نه مخکښ (5) ژوند د مرګ نه مخکښ۔

غافل تجھے گھڑیال یہ دیتا ہے منادی
قدرت نے گھڑی عمر کی اِک اور گھٹادی

اے غافِله دركوي تا ته خبر، د ګَړئ هر يو ساعَت
ستا د ژوند يو ساعت نور هُم كم كړو قُدرت

## دوه نعمتونه

د سركارِ نامدار، د مدينې تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشادِ مُبارك دې: دوه نعمتونه داسې دي چه د هغې په باره كښ ډير خلق په دوكه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرانِي)

کښې پراته دي، يو صِحّت او بل فَراغـت [يعنى اوزګار وخت]. (صحيح البخاری ج ٣ ص ٢٢٢ حديث ٦٤١٢)

**خوږو خوږو اسلامى ورونړو!** واقعى د صحّت په قدر بيمار پوهيږي او د وخت په قدر هغه خلق پوهيږي څوک چه ډير زيات مصروفه وي. ګڼي کوم خلق چه "اوزګار"وي هغوئ څه خبر دي چه د وخت څه اهميّت دې! د وخت قدراوپيژنئ او د فُضول خبرو، فُضول کارونو او فُضول ملګرو نه د ډډې کولو ذهن جوړ کړئ.

## حُسنِ اسلام

تِرمِذي شريف کښې دي: د سرکارِ دوعالم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ دې: د انسان د اسلام په صِفتونو کښې يو (صِفَت) پريښودل دي د هغه (کار) کوم چه هغه ته ګټه نه ورکوي.

(سنن الترمذی ج ٤ ص ١٤٢ حديث ٢٣٢٤)

## د قِيمتي ساعتونو قدر

د ژوند ورځې د يو څو ګينټو نه او ګينټې د ساعتونو نه جوړې شوي دي، د ژوند هره ساه قيمتي ملغلره ده، کاش! مونږ ته د يوې يوې ساه قدر کول رانصيب شي چه يوه ساه هم بې فائِده تيره نه شي او صبا د قِيامت په ورځ د ژوند خزانه د نيکو نه خالى ليدلو په وجه د پښيمانئ اوښکې نه تويوو! په کروړونو کاش! چه د يو يو ساعت

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّیاللّٰہُتَعَالٰیعَلَیۡہِوَاٰلِہٖوَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، څوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِيمان)

حساب كول زمونږ عادت جوړشي چه [زمونږه داساعت په] كوم ځائ كښې تيرېږي، كاش! چه د ژوند هر هر ساعت په فائِده وركوونكي كارونو كښې تير شي هسې نه چه د قيامت په ورځ خپل وختونه په فُضول خبرو او ګپ شپ كښې تير شوي اووينو او بيا د افسوس نه لاسونه مږو!

## د وخت د قدردانو ارشادات او منقُولات

1. اميرُ المُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰى شيرِ خُدا كَرَّمَاللّٰہُتَعَالٰی وَجۡهَهُالۡكَرِيۡم فرمائي: ”دا ورځې ستاسو د ژوند پاڼرې دي دا په ښو عملونو ښكلې كړئ.“
2. حضرت سيِّدنا عبدُاللّٰه بن مسعود رَضِیَاللّٰہُتَعَالٰیعَنۡهُ فرمائي: ”زه د خپل ژوند د تيرې شوې هغه ورځې په مُقابله كښې په بل شي دومره نه پښيما نه كيږم [څومره چه په هغه ورځ] كومه ورځ چه زما په نيكو عملونو كښې د زيات والي نه خالي وي“.
3. حضرتِ سيِّدنا عُمر بن عبدُالعَزيزرَضِیَاللّٰہُتَعَالٰیعَنۡهُ فرمائي: هره ورځ ستاسو عمر مسلسل كميږي نو بيا په نيكو كښې ولې سُستي كوئ؟ يو ځل ورته چا عرض اوكړو: يا اميرَالمُؤمِنين! دا كار تاسو صبا ته پريږدئ، ارشاد ئې اوفرمائيلو: ”زه د هرې ورځ كار په مشكله سره په يوه ورځ كښې پوره كووم او كه د نن كار صبا

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُومره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

ته پريږدم نو بيا به د دوو ورځو کار په يوه ورځ کښې څنګه اوکړې شم"؟

آج کا کام کل پر مت ڈالو کل دوسرا کام ہو گا

د نن کار صبا ته مه پريږده، صبا به بل کار هم وي.

4. حضرت سيّدنا حسن بصری رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي. اے انسانه! ته د ورځو نه جوړشوې ئې، چه يوه ورځ تيره شي نو ته دا اوګڼړه چه ستا د ژوند يوه حصّه هم تيره شوه. (الطبقات الکبریٰ للمناوی ج ۱ ص ۲۵۹)

5. حضرت سيّدنا امام شافِعی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: ما د يوې مودې پورې د الله والؤ د صُحبت [يعنې د هغوئ سره د ناستې ولاړې] نه برکتونه حاصل کړي دي د هغوئ د صُحبت نه ما دوه اهم خبرې زده کړې. (۱) وخت د تُورې په شان دې ته دا [د نيک اعمالوپه ذريعه] کټ کړه ګني دا به تا [په فضولياتو کښې د مشغولولو په وجه] کټ کړي. (۲) د خپل نفس حفاظت کوه که چرې تا دا په ښو کارونو کښې مشغول او نه ساتلو نو دا به تا په څه بدکار کښې مشغول کړي.

6. امام رازي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: "قسم په خدائے عَزَّوَجَلَّ! د ډوډئ خوړلو په وخت کښې د عِلمی مشغولتيا (يعنې د ليکلو يا د لوستلو) د پاتې کيدو ما ته ډير افسوس کيږي ځکه چه وخت ډير قِيمتي دولت دې."

عجب چیز احساس ہے زندگی کا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

يعنې: د ژوند احساس ساتل هم ډير عجيبه څيز [يعنى يو ښکلې عادت] دې.

7. د اَتَمې صدئ د مشهور شافِعِي عالِم سيِّدُنا شمسُ الدِّين اصبهانى قُدِّسَ سِرُّهُ النُّورَانِي په باره کښې حافِظ ابنِ حجر رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه فرمائي: چه هغوئ رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه به د دې يَرې نه خوراک کم کولو چه د زيات خوراک څښاک سره به د بَول و براز [يعنې د اودس ماتولو] ضرورت زياتيږي او بيا بيا بيتُ الخلاء ته په تګ به وخت ضائِع کيږي! (الدرر الکامن للعسقلانی ج ۴ ص ۳۲۸)

8. حضرتِ علّامه ذَهبي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه په "تَذكِرَةُ الحُفّاظ" کښې د خطيب بغدادي عَلَيهِ رَحمَةُ اللهِ الهَادِي په باره کښې تحرير فرمائي چه: "هغوئي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه به په لاره په روانه هم مطالعه جارى ساتله" (چه د تلو راتلو وخت هم بيکاره تير نه شي) (تذکرۃ الحُفّاظ ج ۳ ص ۲۲۴)

9. حضرت جُنيد بغدادي عَلَيهِ رَحمَةُ اللهِ الهَادِي د ځنکدن په وخت کښې قرآنِ پاک لوستلو، هغوئ نه تپوس اوکړې شو: په دې وخت کښې هم تِلاوت؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: زما نامۀ اعمال بنديدو والا ده نو زر زر په دې کښې زيات والې کووم. (صيد الخاطر لابن الجوزی ص ۲۲۷)

## د نِظامُ الاوقات ترکيب جوړ کړئ

خوږو خوږو اسلامى ورونړو! که کيدې شي نو د خپلې هرې ورځ نظامُ الاوقات ترتيب تيارول پکاردي. اوّل خو د ماسخُ مونځ اوکړئ او په دوو ګينټو کښې دننه دننه اوده شئ. د شپې فُضول

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبَرَاني)

تولګې جوړول، په هوټلو کښې ناسته او د ملګرو په مجلسونو کښې وقت خرابول (يعنی چه څه ديني مصلحت نه وي) ډير غټ نقصان دې. په تفسير روحُ البيان جلد4 صفحه 166کښې دي: **د قومِ لوط د بربادېدو [يوه وجه] دا هم وه چه هغوئ به په چوکونو کښې ناست وو او په خلقو پورې به ئې ټوقې او مسخرې کولې.**" خوږو خوږو اسلامی ورونړو! د الله عَزَّوَجَلَّ د يرې نه اولړزيږئ! دوستان په ظاهِره که هر څومره نيک صورته وي د هغوئ د زړونو ازارولو او د **الله** عَزَّوَجَلَّ نه غافله کونکو محفلونو نه توبه اوکړئ. د شپې چه د دِيني مشغلو نه اوزګارشئ نو زر اوده کيږئ ځکه چه د شپې آرام د ورځې د آرام نه د صحت د پاره زيات ښه دې او بالکل د فِطرت تقاضه هم ده: چنانچه سيپاره نمبر20 سُورۃُ القصص آيت نمبر73 کښې ارشاد دې:

وَ مِنۡ رَّحۡمَتِهٖ جَعَلَ لَكُمُ الَّيۡلَ وَ النَّهَارَ لِتَسۡكُنُوۡا فِيۡهِ وَ لِتَبۡتَغُوۡا مِنۡ فَضۡلِهٖ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ﴿۷۳﴾

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او هغه په خپل رحمت ستاسو د پاره شپه او ورځ جوړ کړل چه په شپه کښې آرام کوئ او په ورځ کښې د هغه فضل پسې ګرځئ (يعني د ژوند تيرولو د پاره کسب اوکړئ) او ځکه چه تاسو حق اومنئ.

مُفَسِّرِ شَهِير **حکيمُ الاُمّت** حضرت مُفتی احمديارخان عَلَيۡهِ رَحۡمَةُ الۡمَنَّان په ،،نورُ العرفان" صفحه629 کښې د دې آيت لاندې ليکي: د دې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)

نه معلومه شوه چه د کټې [یعنی کار روزګار] د پاره ورځ او د آرام د پاره شپه مُقرر کول غوره دي. هسې د شپې ویخ مه پا کیږئ، په ورځ کښ بیکاره مه اوسئ خو که د معذورئ (یعنی مجبورئ) په وجه د ورځې اوده کیږئ او د شپې ګټه [یعنی کار] کوئ نو څه باک نشته ځنګه چه د ش نوکري کونکي کسان وغیره.

## د سحر فضیلت

نِظامُ الاوقات مُتَعَیّن کولو کښ د کار نوعیت [یعنی قِسم] او کیفیت په نظر کښ ساتل مناسب دي. م لاً کوم اسلامی ورور چه د شپې وختي اوده کیږي هغه سحر تر و تازه وي. لِهٰذا د علمی مشغلو د پاره د سحر وخت ډیر مُناسِب دي. د سرکارِ نامدار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا دُعا "تِرمِذي" نقل کړې ده: اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! زما د اُمّت د پاره د سحر په وختونو کښ بَرَکت عطا کړې.

(ترمذی ج ۳ ص ٦ حدیث ١٢١٦)

چنانچه مُفسِّرِ شهیر حکیمُ الاُمّت حضرتِ مُفتی احمدیارخان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الْمَنَّان د دې حدیثِ پاک لاندې لیکي: یعنی (یا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ) زما د اُمّت په هغه ټولو دیني او دُنیاوي کارونو کښ برکت ورکړې کوم چه هغوئ سحر وختي کوي. لکه سفر، طلبِ علم، ِ ارت وغیره.

(مرأة المناجیح ج ۵ ص ۴۹۱)

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د **الله** عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په **نبي** باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِیمان)

کوشش اوکړئ چه سحر د پاڅيدو نه واخله د شپې د اوده کيدو پورې د ټولو کارونو وختونه مقررکړئ مثلاً دومره بجې تهجُّد، علمي مشغلې، په جُمات کښې د تکبيرِ اولٰی سره او د جَمې سره د سحرمونځ (هم دغه رنګ نور مونځونه هم)، اشراق، چاشت، د سحر طعام، کار روزګار، د غرمې ډوډئ، د کور کارونه، د ماښام مشغلې، ښه صحبت (که دا نه پيدا کيږي نو تنهائې ډيره غوره ده)، اسلامی ورونړو سره د دِيني ضروورياتو د پاره مُلاقات، وغيره وختونه مُقرَّر کړئ، د چا چه د دې عادت نه وي هغوئ ته کيدې شي چه په شروع کښې څه مشکِلات پيښ شي. بيا چه کله د دې عادت جوړ شي نو د دې برکتونه به هم پخپله ښکاره شي. اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ

دن لہو میں کھونا تجھے، شب صبح تک سونا تجھے
شرمِ نبی خوفِ خدا، یہ بھی نہیں وہ بھی نہیں

بې فائدې ورځ تيرول ستا، تر نمر خاته اوده کيدل ستا
نه لرې د نبي شرم او نه يَره د الله، آه! نه دا اَو نه هغه

رزقِ خدا کھایا کیا، فرمانِ حق ٹالا کیا
شکرِ کرم ترسِ جزا، یہ بھی نہیں وہ بھی نہیں (حدائق بخشش)

رِزق خورې ته د الله، او کوې ئې نافرمانې
نه کړې شُکر، نه لرې د عذاب يَره. آه نه د ا او نه هغه

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ کښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه کووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشکوال)

**خوږو خوږو اسلامی وروڼړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يوڅو سُنَّتونه او آداب د بيانولو سعادت حاصلووم. د تاجدارِ رِسالت، نبئِ رَحمت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دې: چا چه زما د سنّتو سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چه زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.

(مشکاۃ المصابیح ج ۱ ص ۵۵ حدیث ۱۷۵)

سنّتیں عام کریں دین کا ہم کام کریں
نیک ہو جائیں مسلمان مدینے والے

بس د دِين کار کښې لګيا شو او عام کړو سُنّتونه
نيك دِ شي مسلمانان ټول اے تاجدار د مدينې

## د اوده کيدو او رابيداريدو 15 مدنی ګلونه

(۱) د اوده کيدو نه مخکښې بِستره په ښه شان څنډئ چه که چرې زهرژن خزنده (مثلاً مار، لړم) وغيره پکښې وي چه لرې شي.

(۲) د اوده کيدو نه مخکښې دا دعا لولئ: اَللّٰھُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْیٰ اے الله زه ستا په نُوم مړکيږم او ژوندې کيږم (يعني اُوده کيږم او را وِيښيږم) (بخاری ج ۴ ص ۱۹۶ حدیث ۶۳۲۵)

(۳) د مازدِيګر نه پس مه اُوده کيږئ د عقل د زائِل کيدو (يعني ختميدو) يَره ده. فرمانِ مُصطفیٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: "څوك چه د

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډېر نِزدې هغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

مازدِيګر نه پس اُوده شي او د هغه عقل لاړو نو هغه دِ خپل ځان ملامته کړي." (مسند ابی یعلٰی ج ۴ حدیث ۲۸)

(٤) غرمه قيلوله (يعنى لږساعت آرام کول) مستحب ده. (عالمگیری ج ۵ ص ۳۷۶)

صدرُالشَّريعه بدرُالطّريقه حضرت علّامه مولانامحمّد امجدعلی اعظمی عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ الْقَوِی فرمائي: غالباً دا به د هغه خلقو دپاره وي څوک چه شپ بيداري [شوګيره] کوي د شپې مونځونه کوي او د الله عَزَّوَجَلَّ ذِکر کوي يا کتابونه لولي ،مطالعه کښې مشغول او ، چه که د شپ بيدارئ په وجه څه ستوماني راځي نو هغه به د قيلولې سره لرې شي. (بهارِ شريعت حصّه ۱۶ ص ۷۹)

(٥) د ورځې په اولنۍ حصّه کښې اوده کيدل يا د ماښام او د ماسخُتن په مينځ کښې اوده کيدل مکروه دي. (عالمگیری ج ۵ ص ۳۷۶)

(٦) په اوده کيدو کښې مُستحب دا دي چه اودس ئې وي او اوده شي او

(٧) څه ساعت په ښئ ډډه ښي لاس د رُخسار (يعنى مخ) نه لاندې کړي او مخ په قبله اوده شي بيا د هغې نه وروستو په ګڅه ډډه. (ايضاً)

(٨) د اوده کيدو په وخت کښې دِ په قبر کښې اوده کيدل ياد کړي چه هلته به يواځې اوده کيدل وی سِوا د خپلو عملونو نه به ورسره هيڅ څوک هم ملګرې نه وي.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَراني)

(۹) د اوده کيدو په وخت کښ دِ د **الله** عَزَّوَجَلَّ په ياد کښ مشغول شي، تَهلِيل و تَسبِيح و تَحمِيد دِ لولي (يعنى د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، سُبۡحٰنَ اللّٰه، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ وظيفه دِ کوي) تر دې چه اوده شي، ځکه چه انسان په کوم حالت اوده کيږی هم به په هغه حالت راپيداريږی او په کوم حالت چه مري د قيامت په ورځ به هم په هغه حالت راپاځي. (ايضاً)

(۱۰) د راپيداريدو نه پس دا دعا لولئ: اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡۤ اَحۡيَانَا بَعۡدَ مَآ اَمَاتَنَا وَاِلَيۡهِ النُّشُوۡرُ (بخاری ج۴ ص۱۹۶ حديث ۶۳۲۵) **ترجمه**: ټول صفتونه د الله عَزَّوَجَلَّ د پاره دي چا چه مونږه د مړه کولو نه پس ژوندي کړو او هُم د هغه طرف ته بيرته تلل دي.

(۱۱) هم [د اوده کيدو په] دغه وخت کښ دِ دا پخه اراده اوکړي چه پرهيزګاري او تقوٰی به اختياروي، چا ته به تکليف نه ورکوي.

(فتاوٰی عالمگيری ج۵ ص۳۷۶)

(۱۲) چه کله د هلک او د جينئ عمر د لسو کالو شي نو هغوئ جدا جدا اوده کول پکار دي بلکه د دې عمر هلک دِ دومره غټو (يعنى د خپل عمر) هلکانو يا (د ځان نه غټو) سرو سره هم نه اوده کيږي.

(دُرِّمختار، رد المحتار ج۹ ص۶۲۹)

(۱۳) ښځه او خاوند چه کله په يو کټ کښ اوده کيږی نو د لسو کالو ماشوم دِ د ځان سره نه اوده کوي، هلک چه کله د شهوت حد ته اورسي نو هغه د سړی په حکم کښ دي. (در مختار ج۹ ص۶۳۰)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړيږم.(شُعَبُ الاِيمان)

(١٤) د خوب نه چه رابيدار شئ نو مسواک کوئ.

(١٥) د شپې چه د خوب نه راپاځئ او تهجُّد ادا کړئ نو دا د ډير سعادت خبره ده. سَيِّدُ الْمُرسَلِين رَحمَةُ الِّلْعٰلَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلې دې: د فرضو نه پس افضل نمونځ د شپې مونځ دې.

(صحيح مسلم، ص ۵۹۱ حديث ۱۱۶۳)

په قِسم قِسم سنّتونه زده کولو دپاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه د 120 صفحو كتاب ''سُنّتيں اور آداب'' هديه كړئ او اولولئ. د سنّتونو د تربيّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اِسلامی په مدنی قافِلو كښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتو نه ډک سفر هم دې.

سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو
ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

سُنّتونه زده كولو د پاره قافلو كښې لاړ شئ
رحمتونه ګټلو د پاره قافلو كښې لاړ شئ
حل به مو شي مشكِلونه قافلو كښې لاړشئ
شي به ختم مصِيبتوبتونه قافلو كښې لاړشئ

**دا رساله اولولئ او بل ته ئې وركړئ**

په غم ښادئ، اجتماعاتو، عُرسونو او د ميلاد په جلوسونو وغيره كښې د **مَكتَبَةُالْمَدِيْنه** نه شائع شوي رسالې او د مدني ګلونو پرچې تقسيم كړئ او ثواب اوګټئ، خپلو ګاهكونو ته په تحفه كښې وركولو د پاره په خپلو دُكانونو كښې هم د رِسالو اېښودلو عادت جوړ كړئ، د اخبار خرڅونكو يا د ماشومانو په ذريعه په خپل چم ګاوَنډ كښې كور په كور وقفه په وقفه كله يوه كله بله د سنّتو نه ډكو رِسالو رسَوَلو په ذريعه د نيكۍ دعوت عام كړئ او ډير ثوابونه اوګټئ.

طلب غم مدینہ بقیع
و مغفرت وبے
حساب جنّت
الفردوس میں
آقا کا پڑوس

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیك او مونځ ګزاره جوړیدو دَ پاره

هر زیارت د مابنام د مانځه نه پس ستاسو په ځائ کښ کیدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو نه ډکه هفته واره اجتماع کښ د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِیتّونو سره توله شپه تیروئ ۞ د سُنّتو د تربیّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښ د عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د دري ورځو سفر او ۞ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په ورومبي تاریخ ئې د خپل ځائ [د دعوتِ اسلامي] ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ دَ خپل ځان دَ اِصلاح دَ پاره په "مَدَني اِنعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اِصلاح دَ کوشش کولو دَ پاره په "مَدَني قافِلو" کښ سَفَر کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ










www.dawateislami.net

مکتبة المدینة
MAKTABA TUL MADINAH
MC 1286

فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net